## دافغانستان اسلامی جمهوریت

## دعدلیی وزارت

# رسمی جریده

## داطفائیی دچارو دتنظیم مقرره

## مقرره تنظیم امور اطفائیه

دخپریدو نیټه د ۱۳۹۰هـ.ش کال دتلی دمیاشتی (۵) پرله پسی نمبر (۱۰۶۱)

تاریخ نشر : ( ۵) میزان سال ۱۳۹۰ هـ. ش نمبرمسلسل (۱۰۶۱)

**در این شماره :**

**مقرره تنظیم امور اطفائیه .**


**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم "دقیق"

**۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷**

**ددفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵**

**مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

**مهتمم: محمدجان ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲**

ویب سایت : www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ........................... .. .......(۳۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :................................. . ....(۳۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

د اطفائیې د چارو د تنظیم د
مقررې دانفاذ په هکله،
د افغانستان د اسلامي
جمهوریت د وزیرانو شوري
مصوبه

ګڼه :(۲۲)

نېټه :۱۳۹۰/۶/۲۱

د اطفائیې د چارو د تنظیم مقرره چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو شوري لخوا په (۵) فصلونو او (۳۳) مادوکې تصویب شوې، منظوروم.

دغه مصوبه له نومورې مقررې سره یوځای په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي
جمهوریت رئیس

مصوبهٔ
شورای وزیران جمهوری
اسلامی افغانستان
در مورد انفاذ مقررهٔ تنظیم
امور اطفائیه

شماره: (۲۲)

تاریخ : ۱۳۹۰/۶/۲۱

مقررهٔ تنظیم امور اطفائیه را که به داخل (۵) فصل و (۳۳) ماده از طرف شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده،منظور می دارم.

این مصوبه همراه با مقررهٔ مذکور از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی
افغانستان

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ تنظیم امور اطفائیه

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول : | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم : | اهداف | ۱ |
| مادهٔ سوم : | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم : | ایجاد اداره | ۴ |
| مادهٔپنجم : | موافقهٔ ادارهٔ اطفائیه در مورد نقشه ها | ۵ |
| | **فصل دوم** | |
| | **وظایف وصلاحیت های ادارهٔ اطفائیه** | |
| مادهٔششم : | وظایف و صلاحیت ها | ۵ |
| مادهٔ هفتم : | اقدامات حین وقوع حریق | ۹ |
| مادهٔ هشتم : | مؤعد سروی | ۱۰ |
| مادهٔ نهم : | رعایت نکات ضروری سروی | ۱۱ |
| مادهٔ دهم : | رهنمود های اطفائیوی | ۱۲ |
| مادهٔ یازدهم : | حضور مسئولین پروژه ها | ۱۴ |
| مادهٔ دوازدهم : | رعایت نورم ها | ۱۴ |
| مادهٔ سیزدهم : | حضور مسئولین ادارهٔ اطفائیه | ۱۵ |
| مادهٔ چهاردهم : | بررسی وگزارش واقعات حریق | ۱٦ |
| مادهٔ پانزدهم : | برنامه های آموزشی | ۱٦ |
| مادهٔ شانزدهم : | ایجاد گروه رضاکار | ۱۷ |

## فصل سوم
## مکلفیت های ادارات دولتی و سکتور خصوصی

مادۀ هفدهم : مکلفیت وزارت دفاع ملی و ریاست عمومی امنیت ملی .. ..۱۸
مادۀ هجدهم : مکلفیت وزارت اطلاعات و فرهنگ........ .. ... ۱۸
مادۀ نزدهم : مکلفیت وزارت معارف ........................ .. ۱۹
مادۀ بیستم : مکلفیت شاروالی ها........................ ... .. ۱۹
مادۀ بیست ویکم : مکلفیت همگانی............................ .. ۲۰
مادۀ بیست ودوم : تجهیزات اطفائیوی ........................... .. ۲۰
مادۀ بیست وسوم : نصب علایم ........................... ...... .... ۲۱

## فصل چهارم
## مؤیدات

مادۀ بیست وچهارم : توقف مؤقت فعالیت........................ ..... ۲۲
مادۀ بیست وپنجم : جریمۀ نقدی............................. ... .... ۲۲
مادۀ بیست وششم : محو آلات بی کیفیت .................. . ...... ۲۳
مادۀ بیست وهفتم : تعقیب عدلی............................... ...... ۲۳

## فصل پنجم
## احکام متفرقه

مادۀ بیست وهشتم : همکاری ........................................ ۲۴
مادۀ بیست ونهم : بیرق ........................................ ۲۴
مادۀ سی ام : ارائه گزارش........................................ ۲۵
مادۀ سی ویکم : نظارت از تطبیق مقرره ........................... ۲۵
مادۀ سی ودوم : وضع لوایح و طرزالعمل ........................ ۲۵
مادۀ سی وسوم : انفاذ ........................................ ..... ۲۶

## د اطفائيې د چارو د تنظيم
## مقرره
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د پوليسو د قانون په (۳۲) ماده کې د درج شوي حکم پر بنسټ، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د حريق (اورلګېدنې) له پېښېدوڅخه وړاندنيوی،د هغه له خپرېدو څخه مخنيوی او وژنه.

۲- له حريق څخه د اشخاصو او مالونو د سلامتۍ ساتل.

۳- د طبيعي او غير طبيعي ناڅاپي پېښو د پېښېدو په وخت کې د

## مقررهٔ
## تنظيم امور اطفائيه
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

اين مقرره به تأسی از حکم مندرج مادهٔ( ۳۲) قانون پوليس وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف اين مقرره عبارت اند از:

۱- پيشگيری از وقوع حريق، جلوگيری از سرايت وخاموش کردن آن.

۲- حفظ سلامت اشخاص و اموال از حريق.

۳- تأمين امنيت اطفائيوی حين وقوع حوادث غير مترقبه

خلکو د ځان او مال د ژغورلو لپاره د اطفائیوي امنیت تأمینول.

۴- د اطفائیوي معیارونو په پام کې د نیولو له پلوه د دولتـــي او غیـــر دولتي ودانیو او تأسیساتو څارنه.

۵- د حریق د پیښېدو په صورت کې د اطفائیوي فعالیتونو ښه ترسره کول.

## اصطلاحګاني

دریمه ماده:

لانـــدې اصـــطلاحګاني پـــدې مقررې کـــې لانـــدیني مفـــاهیم افاده کوي:

۱- اطفائیه: د اړوندو مؤظفینو په واسطه د اور لګېدنې له پیښېدو، د هغه له خپرېدلو او وژلو څخـــه د مخنیوي فعالیتونه دي.

۲-حریق: هغه نه کنترول شـــوی اور دی چې مالي زیانونه یا ځـــاني تلفاتو او یا د دواړو ته منجر کېږي.

۳- وقایوي فعالیت: هغه اقدامات دي چې د حریق د مخنیـــوي پـــه

طبیعی و غیر طبیعی جهت نجـــات جان ومال مردم.

۴- نظارت ساختمان ها وتأسیسات دولتی و غیر دولتی از لحاظ رعایت معیارهای اطفائیوی.

۵- اجرای بهتر فعالیـــت هـــای اطفـــائیوی در صـــورت وقـــوع حریق.

## اصطلاحات

مادۀ سوم:

اصـــطلاحات آتـــی در ایـــن مقـــرره مفـــاهیم ذیـــل را افـــاده می نماید:

۱- اطفائیه:فعالیت های پیشگیرانه از وقوع آتش ســـوزی ،ســـرایت وخاموش کردن آن است توســـط مؤظفین مربوط.

۲- حریق: آتش کنترول ناشـــده است که منجر به خسارات مالی یا تلفات جانی ویا هردو می گردد.

۳- فعالیت وقـــایوی: اقـــداماتی است که بـــه مقـــصد پیـــشگیری

مقصد د هغهٔ له پېښېدوڅخه دمخه، ترسره کېږي.

۴- مجادلوي فعاليت: هغه تدبيرونه دي چې د حريق د وژلو په مقصد د هغهٔ د پېښېدو په وخت کې نيـول کېږي.

۵- بنسټيزه سروې: د اطفـائيوي امنيت د معيـارونو د تطبيـق پـه منظور، د ټولو نويو تأسيس شـوو سـاختماني (ودانيـزو) پـروژو، اقتصادي او سوداګريزو ودانيو، د اوسېدنې د مجتمع ګانو او نـورو دولتي او خصوصي سـکتور يـا متـشبثينو د ودانيـو د طرحـې څېړل دي.

۶- تخنيکي سروې: د پروژې لـه بشپړېدو وروسته، ددې مادې پـه (۵)جزءکې د درج شوو ودانيو او تأسيساتو د اطفائيوي معيارونو په پام کې د نيولو څېړل دي.

۷- اوپراتيفي سروې: په خاصـو حالاتوکې، ددې مـادې پـه (۵) جزءکې د درج شـوو ودانيـو او

از حريق قبل از وقوع آن اجراء مى گردد.

۴- فعاليت مجـادلوى:تـدابيرى است كه به مقصد خاموش ساختن حريق حـين وقـوع آن اتخـاذ مى گردد.

۵- سـروى اساسـى: بررسـى طـرح تمـام پـروژه هـاى جديـد التاسـيس سـاختمانى و تعميرات اقتصادى وتجارتى،مجتمع هاى مسكونى وساير ساختمان هاى دولتـى و سـكتور خـصوصى يا متـشبثين اسـت بـه منظـور تطبيـق معيـار هـاى امنيـت اطفائيوى.

۶- سـروى تخنيكـى:بررسـى رعايت معيـار هـاى اطفـائيوى ساختمان ها و تأسيسات منـدرج جزء (۵) اين ماده است بعـد از اكمال پروژه.

۷- سروى اوپراتيفـى :بررسـى معيار هـاى امنيـت اطفـائيوى ساختمان ها وتأسيسات منـدرج

تأسيساتو د اطفــائيوي امنيــت د معيارونو څېړل دي.

۸- تخنيكي څارنه: ددې مادې په (۵) جزءکې په درج شوو ودانيو او تأسيـــساتوكې د اطفـــائيوي او تكنالوژيكي تجهيزاتو او د هغــو د ملحقاتو څېړل دي.

## د ادارې رامنځته كول

### څلورمه ماده:

(۱) د اطفائيې اداره، د كورنيـــو چارو وزارت په چوكـــاټ كـــې فعاليت كوي او واحدونه يې پـــه ولايتونو، ښارونو او ولـــسواليوكې رامنځته كېږي.

(۲) د اطفائيې اداره د خپلو دندو په ترسره كولوكې ددې مقررې او د پوليسو د قانون او نورو تقنينـــي سندونو حكمونه د عمـــل مـــلاک ګرځوي.

جـــزء(۵)ايـــن مـــاده اســـت در حالات خاص.

۸- مراقبـــت تخنيكـــى:بررســـى تجهيزات اطفائيوى و تكنالوژيكى و ملحقات آنها در ساختمان هـــا وتأسيـــسات منـــدرج جـــزء(۵) اين ماده است.

## ايجاد اداره

### مادۀ چهارم:

(۱) ادارۀ اطفائيـــه در چوكـــات وزارت امـــور داخلـــه فعاليـــت نمـــوده و واحـــد هـــاى آن در ولايات، شهر ها و ولسوالى هـــا ايجاد مى گردد.

(۲) ادارۀاطفائيــــــه درانجـــــام وظايف خويش احكام اين مقـــرره و قانون پـــوليس وســـاير اســـناد تقنينـــى رامـــلاک عمـــل قـــرار مى دهد.

**د نقشو په اړه د اطفائيې د اداري موافقه**

**پنځمه ماده:**

(۱)د ودانيو او تأسيساتو د ودانولو او پروژې جوړونې د مراجعو مسئولين مكلف دي، د پروژې له ودانولو دمخه، د اطفائيې د ادارې موافقه د نقشو او سكېچونو په اړه د اطفائيوي نورم او ستندرد د تطبيق لپاره ترلاسه كړي.

(۲) د نورم او ستندرد مؤظفين، د ودانيو او تأسيساتو د طرح شوو نقشو په اړه خپلې كتنې ثبت وي او د هغې سندونه ساتي.

**موافقهٔ ادارهٔ اطفائيه در مورد نقشه ها**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) مسئولين اعمار ساختمان ها و تأسيسات و مراجع پروژه سازى مكلف اند قبل از اعمار پروژه موافقهٔ ادارهٔ اطفائيه را در مورد نقشه ها و سكيج ساحه جهت تطبيق نورم و ستندرد اطفائيوى اخذ نمايند .

(۲) مؤظفين نورم وستندرد ملاحظات خود را در مورد نقشه هاى طرح شده ساختمان ها وتأسيسات ثبت و اسناد آن را حفظ مى نمايند.

## دوه يم فصل

## د اطفائيې د ادارې دندې او واکونه

### دندې او واکونه

**شپږمه ماده:**

د اطفائيې اداره د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د هېواد په کچه د حريق له پېښېدوڅخه د وړاندنيوي او د هغه په وژلو پورې د اړوندو چارو تنظيمول.

۲- د حريق خطر ته د معروضو اشخاصو او مالونو ژغورل.

۳- د حريق له پېښېدو څخه وړاندنيوي او د هغه پرضد د مجادلې لپاره د تدبيرونو نيول.

۴- د حريق له پېښېدو څخه د وړاندنيوي لپاره د تدبيرونو د اغېزمنتيا د سطحې لوړول.

۵- په دولتي او غير دولتي ودانيو کې د حريق له پېښېدوڅخه د وړاندنيوي او مخنيوي د وسايلو

## فصل دوم

## وظايف و صلاحيت های ادارۀ اطفائيه

### وظايف و صلاحيت ها

**مادۀ ششم:**

ادارۀ اطفائيه دارای وظايف وصلاحيت های ذيل می باشد:

۱- تنظيم امور مربوط به پيشگيری ازوقوع حريق وخاموش كردن آن در سطح كشور.

۲- نجات اشخاص واموال معروض به خطر حريق.

۳- اتخاذ تدابير جهت پيشگيری از وقوع حريق و مجادله عليه آن.

۴- ارتقاء سطح مؤثريت تدابير، جهت پيشگيری از وقوع حريق.

۵- حصول اطمينان از موجوديت وسايل پيشگيری وجلو گيری ازوقوع حريق در

له شتون څخه ډاډ ترلاسه کول.

۶- د ټولو ودانیو او تأسیساتو د بنسټیزي سروې، تخنیکي سروې، اوپراتیفي سروې او تخنیکي څارنې اجرأکول. د ملي د فاع وزارت او ملي امنیت د لوی ریاست ودانۍ او تأسیسات له دې حکم څخه مستثني دي.

۷- د پروژو له ګټې اخیستنې څخه دمخه او په هغوکې د اطفائیوي معیارونو د په پام کې نیولو او د اطفائیوي تجهیزاتو له شتون څخه د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره د تسلیمۍ (سپارلو) په هیئت کې غړیتوب.

۸- له حریق سره د مجادلې په غرض د اطفائیې د قطعاتو د ظرفیت لوړول.

۹- د حریق د وقایعو د احصائیې راټولول.

۱۰- د حریق د پیښېدو د علتونو ارزول او پدې برخه کې د وړاندنیونې د تدبیرونو نیول.

ساختمان های دولتی و غیردولتی.

۶- اجرای سروی اساسی،سروی تخنیکی ،سروی اوپراتیفی ومراقبت تخنیکی تمام ساختمان ها و تأسیسات . ساختمان ها وتأسیسات وزارت دفاع ملی و ریاست عمومی امنیت ملی از این حکم مستثنی است.

۷- عضویت در هیئت تسلیم گیری پروژه ها قبل از بهره برداری و حصول اطمینان از رعایت معیار های اطفائیوی و موجودیت تجهیزات اطفائیوی در آن.

۸- ارتقای ظرفیت قطعات اطفائیه غرض مجادله با حریق.

۹- جمع آوری احصائیه وقایع حریق.

۱۰- ارزیابی علل وقوع حریق و اتخاذ تدابیر پیشگیرانه در زمینه .

۱۱- د حريق د واقعاتو څېړنه او له هغه څخه د راپېداشوي زيان تثبيتول.

۱۲- د حريق ضد سامان آلاتو د واردېدو او توليد د اجازې صادرول او بازار ته له وړاندې کولو دمخه د هغو د کيفيت ارزونه.

۱۳- د اطفائيوي امنيت د تدبيرونو د څرنګوالي په هکله د فابريکو، ادارو او مؤسسو له رئيسانو څخه د لازمو معلوماتو غوښتل.

۱۴- د حريق د وړاندنيونې په کار کې د مؤسسې د انجينري او تخنيکي پرسونل او نورو کارکوونکو د همکارۍ جلبول.

۱۵- د مهندسۍ او انجينرۍ، د تهويې او کاناليزاسيون، د اوبو رسولو او اتوماتيک کشف کوونکي او د حريق د وژلو الکتروتخنيک د سيستمونو د عمومي پلان څېړنه.

۱۶- د اطفائيوي معيارونو د نه په پام کې نيولو په صورت کې له نوو تأسيس شوو ودانيو څخه د ګټې

۱۱ - بررسی واقعات حريق وتثبيت خسارهٔ ناشی از آن.

۱۲- صدور اجازه توريدو توليد سامان آلات ضد حريق و ارزيابی کيفيت آن قبل از عرضه به بازار.

۱۳- مطالبهٔ معلومات لازم از رؤسای فابريکه ها، ادارات و مؤسسات در مورد چگونگی تدابير امنيت اطفائيوی.

۱۴- جلب همکاری پرسونل انجنيری و تخنيکی وساير کارکنان مؤسسه در امر پيشگيری از حريق.

۱۵- بررسی پلان عمومی مهندسی و انجنيری، سيستم های تهويه و کاناليزاسيون، الکتروتخنيک آبرسانی و اتوماتيک کشف کننده وخاموش کنندهٔ حريق.

۱۶- منع بهره برداری از ساختمانهای جديدالتاسيس در صورت عدم رعايت معيار

اخيستنې منع کول.

۱۷- له اطفائيوي لارښودونوڅخه پر سرغړوونکو اشخاصــوباندې د نغدي جريمو وضع کول.

۱۸- د حريق د پېښېدو د مخنيوي لپاره د ټوليزو رسنيو او په لاس کې د شته وو نورو امکاناتو له لارې د لارښوديزو برناموخپرول.

**دحريق درامنځته کېدو په وخت کې اقدامات**

**اوومه ماده:**

(۱) د اطفائيې اداره مکلفــه ده د حريق د پېښېدو د خبر د ترلاســه کولو سره جوخت، لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱- په چټکتيا سره د حريــق پــه وژلوکې د ګټې اخيستنې وړ وسايلو او امکاناتو سره د موُظفينو لېږل.

۲- د اشخاصو د ژغورلو، د عامه او خصوصي مالونو او شــتمنيو د ساتنې په منظور چــې د حريــق د پېښېدو په اثر له خطر سره مخامخ

های اطفائیوی.

۱۷- وضع جریمه هــای نقــدی بالای اشخاص متخلف از رهنمود های اطفائیوی.

۱۸- نشر برنامه های رهنمــودی جهت جلوگیری از وقوع حریق از طریق رسانه های همگانی و ســایر امکانات دست داشته.

**اقــدامـــــات حــین وقــوع حریق**

**مادهٔ هفتم:**

(۱) ادارهٔ اطفائیـــــه مکلـــــف است به مجرد کسب اطــلاع از وقوع حریق بــه اقــدامات ذیــل متوسل شود:

۱- اعزام مؤظفین بــا وســایل و امکانات قابل استفاده در خاموش کردن حریق به اسرع وقت.

۲- اتخاذ تــدابیر بــه منظــور نجــات اشــخاص ، حفاظــت اموال ودارائی عامه و خــصوصی که به اثروقوع حریق بــه خطــر

دي، د تدبيرونو نيول.

(۲) د اطفائيې مؤظفين،د مجادلوي فعاليتونو له ترلاسه کولو وروسته د لاندې مواردو لرونکــی محــضر ترتيبوي:

۱- د خبرتيا د اخيــستلو دقيــق وخــت، د خبــر ورکــوونکي د مخابراتي وسيلې شمېره او د خبر ورکونې ډول.

۲_دپېښې ځای ته درسېدودقيق‌وخت.

۳- دحريق د پېښېدوځای اووخت.

۴- د حريق د پېښېدو علت.

۵- د حريق د پېښېدو فاعــل يــا مقصر شخص.

۶- د حريق د خپرېدو علت.

۷- د حريق د وژلو لارې چارې.

۸- نور هغه مطالــب چــې پــه محضرکې د هغو درجول لازم وي.

مواجه اند.

(۲) مــؤظفين اطفائيــه بعــد از اجرای فعاليت هــای مجــادلوی محضرحاوی موارد ذيل را ترتيب می نمايند:

۱- زمان دقيق گــرفتن اطــلاع، شمــارهٔ وسيــلهٔ مخــابــراتی اطلاع دهنــده و نحــوهٔ اطــلاع دهی.

۲-زمان دقيق رسيدن به محل حادثه

۳- محل و وقت وقوع حريق.

۴- علت وقوع حريق.

۵- شخص فاعل يا مقصر وقــوع حريق.

۶- علت ا نتشار حريق.

۷- طرق خاموش کردن حريق.

۸- ساير مطالب کــه درج آن در محضر لازم باشد.

**د سروې موعد**

**اتمه ماده:**

**د اطفائيې د مؤظفينو لخوا بنسټيزه سروې، تخنيکي سروې، اوپراتيفي سروې او تخنيکي څارنه، په لاندې توګه صورت مومي:**

**۱- له احداث څخه دمخه د پروژو د طرحې او ډيزاين په وخت کې بنسټيزه سروې.**

**۲- د څېړنې او وړانديزشوو تدبيرونو د نيولو په منظور، د پروژې له بشپړېدو وروسته تخنيکي سروې.**

**۳- له هرو دووکلونو وروسته تخنيکي څارنه.**

**۴- د اړوندو واکمنو مقاماتو د لزوم ديد مطابق اوپراتيفي سروې.**

**د سروې د اړينو ټکو په پام کې نيول**

**نهمه ماده:**

**د اطفائيې مؤظفين مکلف دي پدې مقرره کې د درج شوو سروې ګانو**

**مؤعد سروی**

**مادۀ هشتم:**

**سروی اساسی،سروی تخنیکی، سروی اوپراتیفی و مراقبت تخنیکی از طرف مؤظفین اطفائیه حسب ذیل صورت می گیرد:**

**۱- سروی اساسی حین طرح ودیزاین پروژه ها قبل از احداث.**

**۲- سروی تخنیکی بعداز اکمال پروژه به منظور بررسی واتخاذ تدابیر پیشنهاد شده.**

**۳ -مراقبت تخنیکی بعدازهر دو سال.**

**۴- سروی اوپراتیفی طبق لزوم دید مقامات ذیصلاح مربوط.**

**رعایت نکات ضروری سروی**

**مادۀ نهم:**

**مؤظفین اطفائیه مکلف اند حین سروی های مندرج این مقرره و**

او تخنيكي څارنې په وخت كې لاندې ټكي په پام كې ونيسي:

۱- د اطفائيوي امنيت د معيارونو د په پام كې د نيولو څېړل.

۲- د حريق د احتمالي علتونو څېړل.

۳- د حريق له پېښېدوڅخه د وړاندنيوي لپاره لارښوونه.

<u>اطفائيوي لارښودونه</u>

لسمه ماده:

(۱)د اطفائيې اداره د بنسټيزې سروې په وخت كې د پروژو مشخصاتو ته په پام سره لاندې لارښودونه د طرحې او ډيزاين د مؤسسو مسئولينو او فرمايش وركوونكو ته صادروي:

۱- د ودانۍ په دننه او بهركې د حريق ضد اوبو رسولو د سيستم تأسيسول.

۲- د اوبو د زېرمې برابرول.

۳- د دخولي او خروجي اظطراري لارو لرل.

مراقبت تخنيکی نکات آتی را درنظر بگيرند:

۱- بررسی رعايت معيار های امنيت اطفائيوی.

۲- بررسی علل احتمالی حريق.

۳- رهنمائی جهت پيشگيری از وقوع حريق.

<u>رهنمود های اطفائيوی</u>

مادۀ دهم:

(۱) ادارۀ اطفائيه حين سروی اساسی رهنمود های ذيل را با نظر داشت مشخصات پروژه ها به مسئولين مؤسسات طرح وديزاين وفرمايش دهنده صادر می نمايد:

۱- تأسيس سيستم آبرسانی ضد حريق در داخل و خارج ساختمان.

۲- تهيۀ ذخيرۀ آب.

۳- داشتن راه های دخولی و خروجی اضطراری.

۴- دوداني په پوښښ کې له نه سو ځېدونکو موادوڅخه ګټه اخيستل.
۵-د مرکز ګرمي د سيستم لرل.
٦- د لزوم په صورت کې د پروژې مشخصاتو ته په پام سره نور موارد.
(۲) د اطفائيې اداره، پدې مقرره کې د درج شوو سروې ګانو په وخت کې لاندې لارښودونه، د ودانيو او تأسيساتو مشخصاتو ته په پام سره، د ودانيو او تأسيساتو مسئولينو او مالکانو ته صادروي:
۱- د امکان په صورت کې دوداني په فرش کې له نه سوځېدونکو موادوڅخه ګټه اخيستل.
۲- د آلارم د سيستم ( د حريق د کشفوونکو وسايلو) نصبول.
۳- د حريق د وژونکو وسايلو نصبول.
۴- د حريق ضد د لومړنيو وسايلو تدارک.
۵- د سندونو او موادو خصوصيت ته په پام سره د هغو د ساتنې ډول.

۴- استفاده ازمواد ناسوز در پوشش ساختمان.
۵- داشتن سيستم مرکز گرمی.
٦- ساير موارد در صورت لزوم بانظرداشت مشخصات پروژه.
(۲) ادارۀ اطفائيه حين سروی های مندرج اين مقرره رهنمود های ذيل را با نظر داشت مشخصات ساختمان ها وتأسيسات به مسئولين ومالکين ساختمان ها وتأسيسات صادر می نمايد:
۱- استفاده از مواد ناسوز در فرش ساختمان در صورت امکان.
۲- نصب سيستم آلارم(وسايل کشف کننده حريق).
۳- نصب وسايل خاموش کننده حريق.
۴- تدارک وسايل اوليۀ ضد حريق.
۵- طرز نگهداری اسناد و مواد با نظر داشت خصوصيت آن.

٦- د لزوم په صورت کې نور موارد.
(۳) د اطفائیې اداره کولای شي په لویو ودانیو او اقتصادي او سوداګریزو تأسیساتوکې د هغو خصوصیاتو او مشخصاتو ته په پام سره د احتمالي حریق د وژلو په منظور، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو لارښودونو پرصادرولو برسېره، د اطفائیې د واحد په رامنځته کولو هم امر وکړي.
(۴) د طرحې او ډیزاین د مؤسسو مسئولین، فرمایش ورکوونکي او د ودانیو او تأسیساتو مسئولین پدې ماده کې د درج شوو لارښودونو په پام کې نیولو باندې مکلف دي.

## د پروژو د مسئولینو حضور

### یوولسمه ماده:

د اطفائیې د ادارې موظفین، پدې مقرره کې درج شوې سروې ګانې، د اړوندو پروژو، تأسیساتو او د ودانیو د اداري او فني مسئولینو په حضورکې سرته رسوي.

٦- سایر موارد در صورت لزوم.
(۳) ادارۀ اطفائیه می تواند به منظور خاموش کردن حریق احتمالی در ساختمان ها وتأسیسات بزرگ اقتصادی وتجارتی با نظر داشت خصوصیات ومشخصات آن ها علاوه بر صدور رهنمود های مندرج فقرۀ (۲) این ماده به ایجاد واحد اطفائیه نیز امر نماید.
(۴) مسئولین مؤسسات طرح ودیزاین ،فرمایش دهنده و مسئولین ومالکین ساختمان ها وتأسیسات مکلف به رعایت رهنمود های مندرج این ماده می باشند.

## حضور مسئولین پروژه ها

### مادۀ یازدهم:

مؤظفین ادارۀ اطفائیه، سروی های مندرج این مقرره را به حضور داشت مسئولین اداری و فنی پروژه ها، تأسیسات و ساختمان های مربوط انجام می دهند.

## د نورمونو په پام کې نيول

**دوولسمه ماده:**

(۱) د اطفائيې اداره، پدې مقـــرره کې د درج شوو سروې ګانو لـــه سرته رسولو وروسته د سرغړونې د تثبيت په صورت کـــې، د ودانـــۍ مشخصاتو ته په کتو د نيمګړتياوو د لرې کولو او د اطفائيوي امنيت د معيارونو د په پام کې نيولـــو پـــه منظور، يو وخت ټاکي.

(۲) د طرحـــې او ډيـــزاين او د تأسيساتو او ودانيو مسئولين مکلف دي په ټاکل شوې مـــوده کـــې د نيمګړتياوو په لرې کولـــو اقـــدام وکړي، د لارښود د نه تطبيق پـــه صورت کـــې، د اطفـــائيې اداره، ســـــرغړوونکي ددې مقـــررې د حکمونو مطابق تأديبوي.

## رعايت نورم ها

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) ادارهٔ اطفائيه بعـــد از انجـــام ســـروی هـــای منـــدرج ايـــن مقرره درصورت تثبيـــت تخلـــف بـــه منظـــور رفـــع نـــواقص و رعايـــت معيـــار هـــای امنيـــت اطفائيوی بانظر داشت مشخصات ســـاختمان ميعـــادی را تعيـــين می نمايد.

(۲) مـــسئولين طـــرح وديـــزاين ومالکين تأسيسات و ساختمان ها مکلف اند در ميعاد تعيـــين شـــده به رفع نـــواقص اقـــدام نماينـــد، در صورت عدم تطبيق رهنمـــود، ادارهٔ اطفائيـــــه متخلفـــــين را طبق احکام اين مقـــرره تأديـــب می نمايد.

## د اطفائيې د ادارې د مسئولينو حضور

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د ودانيو او تأسيساتو د ودانولو او د پروژې جوړونې د مراجعو مسئولين مکلف دي د ودانو شوو پروژو د سپارلو په وخت کې، د اطفائيې د نورم او ستندرد د مؤظف حضور وغواړي.

(۲) که چېرې پروژې د اطفائيوي نورم او ستندرد له په پام کې نيولو څخه پرته ودانې شوې وي، د اطفائيې اداره کولای شي له ودانې شوې پروژې څخه ګټه اخيستنه، د نيمګړتياوو تر لرې کېدو پورې منع کړي.

## د حريق د پېښنو څېړنه او رپوټ

**څوارلسمه ماده:**

د اطفائيې مسئولين مکلف دي د حريق پېښې وڅېړي، د هغهٔ رپوټ ترتيب، د ځای سکيچ او تصويرونه واخلي.

## حضور مسئولين ادارهٔ اطفائيه

**مادهٔ سيزدهم:**

(۱) مسئولين اعمار ساختمان ها و تأسيسات و مراجع پروژه سازی مکلف اند حين تسليم دهی پروژه های اعمار شده،حضور مؤظف نورم و ستندرد اطفائيه را مطالبه نمايند.

(۲) هرگاه پروژه ها بدون رعايت نورم و استندرداطفائيوی اعمار گرديده باشد، ادارهٔ اطفائيه می تواند بهره برداری از پروژه اعمار شده را الی رفع نواقص منع نمايد.

## بررسی وگزارش واقعات حريق

**مادهٔ چهاردهم:**

مسئولين اطفائيه مکلف اند واقعات حريق را بررسی نموده ،گزارش آنرا ترتيب،سکيچ وتصاويرمحل را اخذ نمايند.

## زده کړه ييزې برنامې

**پنځلسمه ماده:**

د اطفائيې اداره کولای شي د اطفائيوي وقايوي او مجادلوي تدبيرونو د تبليغ او رواجولو په منظور،په توليدي ساحو او هغو سيموکې چې د حريق د پېښېدو خطر پکې ليدل کېږي، د حريق له پېښېدو څخه د مخنيوي په غرض عملي زده کړه ييزې برنامې طرح او تطبيق کړي.

## د رضا کارې ډلې رامنځته کول

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د اطفائيې اداره کولای شي د کړنلارې مطابق، د اطفائيې رضا کارې ډلې په زيان منونکو ځايونو په تېره د غله جاتو په کروندو، ځنګلونو،ګدامونو،د مالدارۍ، کرنيزو فارمونو او توليدي او ښوونيزو مؤسسوکې د اړوندو مسئولينو په همکارۍ رامنځته کړي.

(۲) د اطفائيې اداره مؤظفه ده، د

## برنامه های آموزشی

**مادۀ پانزدهم:**

ادارۀ اطفائیه می تواند به منظور تبلیغ و ترویج تدابیر وقایوی ومجادلوی اطفائیوی غرض جلوگیری از واقعات حریق در ساحات تولیدی ومناطقی که خطر وقوع حریق در آن متصور است، برنامه های آموزش عملی راطرح و تطبیق نماید.

## ایجاد گروه رضاکار

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) ادارۀ اطفائیه می تواند طبق طرزالعمل، گروه های رضا کار اطفائیه را در محلات آسیب پذیر به خصوص مزارع غله جات، جنگلات، گدام ها، فارم های مالداری، زراعتی و مؤسسات تولیدی و تعلیمی به همکاری مسئولین مربوط ایجاد نماید.

(۲) ادارۀ اطفائیه مؤظف است

اطفائيې رضا کار ته د حريق د وقايې او مجادلې په کارکې زده کړه ورکړي

## دريیم فصل

## د دولتي ادارو او خصوصي سکتور مکلفيتونه

### د ملي دفاع وزارت او د ملي امنيت د عمومي رياست مکلفيت

**اوولسمه ماده:**

د ملي دفاع وزارت او د ملي امنيت د عمومي رياست د اطفائيې اداره، ددې مقررې په(۸، ۱۰،۹او ۱۱) مادو کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نيولو سره، د خپلو اړوندو ساحو ودانۍ او تأسيسات څېړي. د اړتيا په صورت کې نوموړې مراجع کولای شي د کورنيو چارو د وزارت د اطفائيې د ادارې همکاري هم وغواړي.

رضا کار اطفائيه را در امر وقايه و مجادله با حريق آموزش دهد.

## فصل سوم

## مکلفيت های ادارات دولتی وسکتور خصوصی

### مکلفيت وزارت دفاع ملی ورياست عمومی امنيت ملی

**مادهٔ هفدهم:**

ادارهٔ اطفائيه وزارت دفاع ملی و رياست عمومی امنيت ملی، ساختمان هاو تأسيسات ساحهٔ مربوط خويش را با رعايت احکام مندرج مواد(۸، ۹، ۱۰ و۱۱)اين مقرره بررسی می نمايند . در صورت ضرورت مراجع مذکور می توانند همکاری ادارهٔ اطفائيه وزارت امور داخله را نيز مطالبه نمايند.

## د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مکلفیت

**اتلسمه ماده:**

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مکلف دی، ښوونیزې او زده کړه ییزې برنامې او هغه عوامل چې د حریق د پیښېدو سبب ګرځي، د اړوندو ټولیزو رسنیو له لارې په وړیا ډول خپرې کړي.

## د پوهنې وزارت مکلفیت

**نولسمه ماده:**

د پوهنې وزارت مکلف دی له حریق څخه د وړاندنیوی، د هغه د وژنې، لومړنۍ مرستې او د خطر د دفع کولو یا کمولو د لارې او طریقې په منظور اړینې ښوونیزې برنامې د مکتبونو زده کوونکو ته ور زده کړي.

## د ښاروالیو مکلفیت

**شلمه ماده:**

ښاروالۍ ګانې مکلفې دي، د اطفائیوي خبرتیاوو

## مکلفیت وزارت اطلاعات و فرهنگ

**مادهٔ هجدهم:**

وزارت اطلاعات و فرهنگ مکلف است برنامه های تعلیمی و آموزشی وعواملی که سبب وقوع حریق می گردد از طریق رسانه های همگانی مربوط طور رایگان نشر نماید .

## مکلفیت وزارت معارف

**مادهٔ نزدهم:**

وزارت معارف مکلف است برنامه های آموزشی لازم را به منظور پیشگیری از حریق ، خاموش کردن آن، کمک های اولیه و طرزطریقهٔ دفع یا کاستن خطر را برای شاگردان مکاتب آموزش بدهد .

## مکلفیت شاروالی ها

**مادهٔ بیستم:**

شاروالی ها مکلف اند، به منظور نصب تخته های

د تختو د نصبولو په منظور، په وړيا ډول مناسب ځايونه د اطفائيې د عمومي ادارې په واک کې ورکړي.

## ټوليز مکلفيت

**يوويشتمه ماده:**

د ودانيو او تأسيساتو مسئولين او مالکان او افراد مکلف دي، د اطفائيوي معيارونو د په پام کې د نيولو او د حريق له پراختيا او خپرېدوڅخه د وړاندنيونې په کارکې د اطفائيې له ادارې سره همکاري وکړي.

## اطفائيوي تجهيزات

**دوه ويشتمه ماده:**

د ودانيو، تأسيساتو، ګدامونو او تحويلځايونو مالکان مکلف دي، د اطفائيې د ادارې د لارښود مطابق،لاندې وسايل او تجهيزات برابر او تدارک کړي:

۱- د اطفائيې د ادارې د لارښود مطابق، بېل، کلند، جبل، قيچي او د

اعلانات اطفائيوی محلات مناسب را طور رايگان به دسترس ادارهٔ عمومی اطفائيه قرار دهند.

## مکلفيت همگانی

**مادهٔ بيست ويکم :**

مسئولين و مالکين ساختمان هاوتأسيسات وافراد،مکلف اند درامر رعايت معيار های اطفائيوی و پيشگيری از توسعه وانتشار حريق با ادارهٔ ا طفائيه همکاری نمايند.

## تجهيزات اطفائيوی

**مادهٔ بيست ودوم:**

مالکين ساختمانها،تأسيسات ، گدام ها و تحويلخانه ها مکلف اند طبق رهنمود ادارهٔ اطفائيه وسايل و تجهيزات ذيل را تهيه و تدارک نمايند:

۱- بيل، کلند، جبل ، قيچی و سطل آب طبق رهنمود

اوبو سطل.
۲ــ د حريق ضد بالون يا د رېگ د زېرمې صندوق.
۳ــ د اوبو زېرمه ( آبدان، بېلر او هغو ته ورته).
۴ــ د حريق ضد اوبو رسولو سيستم كورنى او بهرنى هايدرانت او د وژونكي سيستم، په شمول نور اطفائيوي تجهيزات.

## د علامو نصبول

دروېشتمه ماده:
(۱) د ودانيو او تأسيساتو مالكان مكلف دي په زيان منونكو ځايونوكې د حريق له پېښېدوڅخه د وړاندنيوي د چارو د ښه تنظيم په منظور، د اطفائيې د ادارې د لارښود مطابق،لاندې اطفائيوي علامې نصب كړي:
۱ــ اخطاريه علامې.
۲ــ ممانعت كوونكې علامې.
۳ــلارښودونكې علامې.
(۲)اطفائيوي علامې، د اطفائيې د

ادارۀاطفائيه.
۲- بالون ضد حريق يا صندوق ذخيرۀ ريگ.
۳- ذخيرۀ آب (آبدان، بيلر و امثال آن).
۴- سايرتجهيزات اطفائيوى شامل سيستم آبرسانى ضد حريق ، هايدرانت داخلى وخارجى و سيستم خاموش كننده.

## نصب علايم

مادۀ بيست وسوم:
(۱) مالكين ساختمان ها و تأسيسات مكلف اند به منظور تنظيم بهتر امور پيشگيرى از وقوع حريق در محلات آسيب پذير علايم اطفائيوى ذيل را طبق رهنمود ادارۀ اطفائيه نصب نمايند:
۱- علايم اخطاريه.
۲- علايم ممانعت كننده .
۳- علايم رهنمائى كننده .
(۲) علايم اطفائيوى از طرف ادارۀ

ادارې لخوا د بين المللي منل شوو معيارونو مطابق برابرېږي ، او د ودانيو او تأسيساتو مالكانو ته وېشل كېږي.

## ځلورم فصل

## موئيدات

## د فعاليت موُقت درول

**څلېريشتمه ماده:**

د اطفائيې اداره، له اطفائيوي معيارونوڅخه د سرغړونې د تثبيت په صورت كې له احوالو سره سم، يوله لاندې تصميمونوڅخه نيسي:

۱- د سرغړوونكو مسئولينو او اشخاصو، توصيه، اخطار او نغدي جريمه.

۲- د اطفائيوي معيارونو په پام كې د نيولو تر وخته پورې د ودانيو او تأسيساتو د ودانولو د كار مؤقت درول.

۳- د اطفائيوي معيارونو په پام كې دنيولو تر وخته پورې د فابريكې، موٌسسې يا ماشين آلاتو د فعاليت مؤقت درول.

اطفائيه مطابق معيارهای قبول شدۀ بين المللی تهيه و به مالكين ساختمان ها و تأسيسات توزيع می گردد.

## فصل چهارم

## موئيدات

## توقف مؤقت فعاليت

**مادۀ بيست وچهارم:**

ادارۀ اطفائيه درصورت تثبيت تخلف از معيار های اطفائيوی حسب احوال يكی از تصاميم ذيل را اتخاذ می نمايد:

۱- توصيه،اخطار وجريمۀ نقدی مسئولين واشخاص متخلف.

۲- توقف مؤقت كاراعمار ساختمان ها وتأسيسات الی رعايت معيار های اطفائيوی.

۳- توقف مؤقت فعاليت فابريكه، مؤسسه يا ماشين آلات الی رعايت معياری های اطفائيوی.

## نغدي جريمه

**پنځه ويشتمه ماده:**

(۱) كه چېرې د ودانيو، تأسيساتو، فابريكو، مؤسسو او ساختماني پروژو مالكان له اطفائيوي لارښودونو څخه سرغړونه وكړي، له احوالو سره سم، تر لس زرو افغانيو پورې د نغدي جريمې په وركړه باندې مكلف دي.

(۲) پدې مقرره كې درج شوې نغدي جريمه د بانک له لارې د دولت د وارداتو حساب ته تحويلېږي.

(۳) د اطفائيې عمومي اداره مكلفه ده د جريمې د وركړې سند په كتاب كې ثبت او وساتي.

## دبې كېفيته آلاتومحو(له منځه وړل)

**شپږويشتمه ماده:**

د اطفائيې اداره، د حريق ضد بې كيفيته وسايل، آلات او وژونكي مواد، راټول او د محكمې په حكم ضبط او محوكوي.

## جريمهٔ نقدی

**مادهٔ بيست وپنجم:**

(۱)هرگاه مالكين ساختمان ها ، تأسيسات، فابريكه ها، مؤسسات و پروژه های ساختمانی از رهنمود های اطفائيوی تخلف نمايند، حسب احوال مكلف به پرداخت جريمهٔ نقدی الی مبلغ ده هزار افغاني می باشند.

(۲) جريمهٔ نقدی مندرج اين مقرره از طريق بانک به حساب واردات دولت تحويل می گردد.

(۳) ادارهٔ عمومی اطفائيه مكلف است سندپرداخت جريمه را در كتاب ثبت و حفظ نمايد.

## محو آلات بی كيفيت

**مادهٔ بيست وششم:**

ادارهٔ اطفائيه، وسايل ،آلات ومواد خاموش كننده بی كيفيت ضد حريق را جمع آوری وبه حكم محكمه ضبط و محو می نمايد.

**عدلي تعقيب**

**اووه ويشتمه ماده:**

هغه شخص چې عمداً د حريق مرتکب شوی وي، د عدلي تعقيب په غرض واکمنو مراجعو ته معرفي کېږي.

## پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

**همکاري**

**اته ويشتمه ماده:**

د کورنيو چارو او ملي دفاع د وزارتونو او د ملي امنيت د عمومي رياست د اطفائيې اداري، د حريق د وژلو په کارکې يو له بل سره همکاري کوي.

**بېرغ**

**نهه ويشتمه ماده:**

(۱) د اطفائيې اداره د شين (آبي) رنګ ځانګړي بېرغ لرونکې ده چې اوږدوالی يې د هغه د سور دوه برابره دی او د کيڼ اړخ په پورتنۍ

**تعقيب عدلی**

**مادۀ بيست وهفتم:**

شخصی که عمداً مرتکب حريق شده باشد ، غرض تعقيب عدلی بـه مرجع ذيصلاح معرفی می گردد.

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

**همکاری**

**مادۀ بيست وهشتم:**

ادارات اطفائيه وزارت های امور داخله و دفاع ملی و رياست عمومی امنيت ملی در امر خاموش کردن حريق با يکديگر همکاری می نمايند.

**بيرق**

**مادۀ بيست ونهم:**

(۱) ادارۀ اطفائيه دارای بيرق مخصوص به رنگ آبی بوده که طول آن دوچند عرض آن می باشد و در قسمت بالای طرف چپ،

برخه کې یې، د اطفائیې ځانګړی سمبول نصب دی.

(۲) د اطفائیې د ادارې د سمبول ډول او رنګ لدې مقررې سره ضمیمه دی.

## د رپوټ وړاندې کول

**دېرشمه ماده:**

د ودانیو او تأسیساتو مسئولین او مالکان مکلف دي، د اطفائیې د ادارې مؤظفینو ته د حریق او د هغه د عواملو د رپوټ د برابرولو په غرض، لازم معلومات برابر او وړاندې کړي.

## د مقررې له تطبیق څخه څارنه

**یو دېرشمه ماده:**

د اطفائیې اداره، ددې مقررې د حکمونو له تطبیق څخه څارنه کوي.

سمبول مخصوص اطفائیه نصب است.

(۲) شکل و رنګ سمبول ادارۀ اطفائیه ضمیمۀ این مقرره می باشد.

## ارایه گزارش

**مادۀ سی ام:**

مسئولین و مالکین ساختمان ها و تأسیسات مکلف اند معلومات لازم را غرض تهیۀ گزارش حریق و عوامل آن به مؤظفین ادارۀ اطفائیه ارایه نمایند .

## نظارت از تطبیق مقرره

**مادۀ سی ویکم:**

ادارۀ اطفائیه از تطبیق احکام این مقرره نظارت می نماید .

## د لوایحو اوکړنلارو وضع کول

**دوه دېرشمه ماده:**

د اطفائیې اداره کولای شي، ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبیق لپاره لوایح او کړنلارې وضع کړي.

**انفاذ**

**دري دېرشمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته نافذه او په نافذېدو سره یې د ۱۴۲۱هـ.ق کال په (۷۹۳) گڼه رسمي جریده کې خپره شوې د اطفائیې د امارتي ځارنې مقرره ملغي گڼل کېږي.

## وضع لوایح و طرزالعمل

**مادۀ سی ودوم:**

ادارۀ اطفائیه می تواند جهت تطبیق بهتر احکام این مقرره لوایح و طرزالعمل ها را وضع نماید .

**انفاذ**

**مادۀ سی وسوم:**

این مقرره بعد ازنشر در جریدۀ رسمی نافذ وبا انفاذ آن مقررۀ نظارت امارتی اطفائیه منتشرۀ جریدۀرسمی شماره (۷۹۳) سال ۱۴۲۱ هـ ق ملغی شمرده می شود.

## اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

برای کتاب فروشی هابا ۱۰ فیصد تخفیف ازقیمت روی

جلدخارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

ISLAMIC REPUBLIC

OF

AFGHANISTAN

MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL

# GAZETTE

# Regulation on Regulating Firefighting Affairs

**Date: 27 th September .2011**

**ISSUE NO :(1061)**